






# عبدالحفيظ « مليار ـ ساپی »

د نشرنيته : 15 جون 2019 م

# جنتي ښکلي کعبه

ای کاش زه پرې پوهيدای !
ای کا ش زه ترې ځاريدای !
خدمتګار دمور او پلار وای
ژر جنت ته رسيدای !!!
جنتي ښکلي کعبه وه
برکت و او قبله وه
ښه فرصت د عبادت و
لاندې پښنو ته يې سجده وه
ای کاش ما ترېنه تواف کړای
هره ورځ ترې تاويدای
خدمتګار دمور او پلار وای
ژر جنت ته رسېدای !!!
زه يې ورک وای عبادت کې
زه يې ورک وای په خلوت کې
د مور لاس د محبت وای
زه يې ور ک وای شفقت کې
دريغه ای حفيظ « مليارہ »
په ديدن نه مړيدای !!!
خدمتګار دمور او پلار وای
ژر جنت ته رسېدای !!!
عبدالحفيظ « مليار »

بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org